بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی،- درې ځلې» او زمور ځخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ځخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی،- درې ځلې» او زمور ځخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي.

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د بد فال نيونې په اړه خبرداری ورکړی دی، او هغه بد انګېرل دي که هغه له اوربدلو ځخه وي يا د ليدلو ځخه، او يا له مرغانو، حيواناتو، مصيبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو ځخه وي. خو له الوتونکي مرغه يې ځکه يادونه وکړه چې د جاهليت په زمانه کې مشهور و، په اصل کې به چې کله هغوی په کوم کار پيل کاوه لکه سفر، سوداګري او داسې نور، نو مرغه به يې خوشې کړ، که چېرته به ښي لور ته والوت نو نيک فال به يې ونيوه او خپل کار پسې به روان شو، او که چېرته به چې لورې ته والوت نو بد فال به يې ونيوه او له خپل کار ځخه به لاس په سر شو. او خبر يې ورکړ چې دا کار شرک دی، او بد فال نيول لدې امله شرک ګڼل شوی؛ چې هر خير الله پېښوي، او هېڅوک شر نه شي دفع کولی مګر يوازې يو الله دی چې شريک نه لري. او ابن مسعود رضي الله عنه يادونه وکړه چې کېدای شي د مسلمان په زړه کې يو څه بد فال راشي، خو بايد په الله جل جلاله يې په توکل کولو سره دفع کړي، د اسبابو له کارولو سره.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3383